


دکندهار پوهنتون رئیس

دوکتور حضرت میر توتاخېل

# دکندهار پوهنتون رئیس

# دوکتور حضرت میر توتاخېل وینا

**بسم الله الرحمن الرحیم**

السلام علیکم و رحمة الله وبرکاته

له هر څه ترمخه تاسي ټولو محترمو مېلمنو ته چي له هېواده دباندې، په هېواد کي دننه له نورو ولایتونو، د کندهار ولایت څخه او په ځانګړې توګه ښاغلي هر یو داکتر روستار ترکی، بختاني صاحب، درمانګر صاحب، رفیع صاحب، ځیرکیار صاحب، داکتر فاروق اعظم، معصوم هوتک صاحب، ډاکټر نظري صاحب، سیال کاکړ، لېوال صاحب، د ایران او پاکستان د دوستو هېوادو قونسلانو او آغلې ثوریا پوپل صاحب ته چي د عینو مېني په صالون کي د (تېرو ۴۰ کالو له تاریخي پېښو څخه زده کړه) په علمي –نړیوال سیمینار کي مو له مونږ سره ګډون کړی دی، د زړه له کومي ښه راغلاست وایم –هر کله راسئ –خدای مو راوله.

کندهار پوهنتون په دې ویاړي چي ستاسي د کوربه توب او خدمت کولو افتخار لري. او له خوشالۍ او ویاړونو ډک احساسات د کندهار پوهنتون د رهبري هیئت، د علمي کادر د غړو، د اداري او خدماتي کارکوونکو او محصلینو په استازیتوب ومنئ.

د ډېري خوښۍ او ویاړ ځای دئ چي د هېواد په تاریخ کي په لومړي ځل د یوې داسي غونډې شاهدان یو چي پکښي د هېواد د مختلفو برخو او بېلابیلو مسلکونو روشنفکرانو، د نظر او فکر خاوندانو او لیکوالانو پکښي ګډون کړی دی او د هېواد په تېر ۴۰ کلن تاریخ خپل اندونه، تجربې او مشورې د علمي مقالو د وړاندې کولو له لاري له موږ، ولس او نړیوالو سره شریکوي.

کندهار پوهنتون د خپل رسالت له مخي د دې ډول غونډو دایرولو ته ژمن دئ، تر څو له یوې خوا ئې په ټولنیز پرمختګ کي خپله سپېڅلې ونډه ادا او له بلې خوا ئې د هېواد په دې حساسو تاریخي شېبو کي د ضرورت سره سم او که

د خدای رضا وي دموجودو ناخوالو او ستونزو څخه د خلاصون لاري چاري په ګوته او مسئولینو ته ئې په اختیار کې ورکړي.

اجازه راکړئ تر څو ستاسو د معلوماتو لپاره د دې علمي سیمینار د کوربه (کندهار پوهنتون) په اړه لنډ معلومات ستاسو درانه حضور ته وړاندي کړو:

کندهار پوهنتون په ۱۳۶۹ لمریز کال د لوی کندهار په زړه (د کندهار تاریخي ښار) کې د هېواد د ځوان نسل د مسلکي او ژمنو کادرونو د سالمي روزني په موخه د کرهڼي دپوهنځي په درلودلو سره تاسیس سو او وروسته بیا په ترتیب سره د طب، انجنیري، ښووني او روزني، شرعیاتو، اقتصاد، ژورنالیزم، حقوقو او سیاسي علومو، او عامه اداري او پالیسۍ پوهنځي تأسیس سول چي اوس مهال په ۲۸ تحصیلي څانګو کې د ۱۶۸ استادانو په وسیله په روزانه او شبانه پوهنځیو کې شاوخوا ۶۰۰۰ محصلین په زده کړو بوخت دي. کندهار پوهنتون په مجهز او عصري مرکزي لابراتوار، کتابتون، څېړنیز مرکز، کادري روغتون، د هوا پېژندني پرمختللي مرکز، د کارموندني مرکز، د تمثیلي محکمو مرکز او د کرهڼي او مالدارۍ څېړنیز فارم، سمبال دئ. او د ویاړ ځای دئ چي د لوړو زده کړو وزارت د کیفیت د تضمین او اعتبار ورکولو په پروسه کې د هېواد د ۳۱ دولتي پوهنتونونو او لوړو زده کړو مؤسسو په قطار کې د کیفیت له پلوه په دریم نمبر کې قرار لري.کندهار پوهنتون د منسوبینو په هلو ځلو د (۱۵۰) نړیوالو پوهنتونونو په قطار کې د (پوهنتونونو د نړیوالي ټولني) غړیتوب او د اوبو او چاپېریال انجنیرۍ د څانګي له تأسیس سره سم ئې د هېواد په تاریخ کې په لومړي ځل د اوبو د نړیوال سازمان غړیتوب هم تر لاسه کړی دئ. کندهار پوهنتون د خپلو نوښتونو په لړ کې د هېواد اړتیاوو ته په پام سره د انرژۍ، انترپیونرشیپ او د سولي ژورنالیزم څانګي تأسیس او د سولر انرژۍ ۱۷۰ کیلو واټه برېښنا ئې چمتو کړې دي. کندهار پوهنتون په هېواد کې دننه له (۵) لویو پوهنتونونو او په نړیواله کچه له (۱۲) معیاري پوهنتونونو سره پارتنرشیپونه یا دوه اړخېزي اړیکي لري.

پاچا خان علمي څېړنیز مرکز هم د هېواد او سیمي شرایطو ته په کتلو سره د ښاغلي ولسمشر په ځانګړي فرمان په (۱۳۸۷) لمریز کال کي د علمي څېړنو او په ځانګړې توګه د سولي په برخه کي د مطالعاتو په موخه د عدم تشدد د فلسفې په روحیه تاسیس او دا دئ د دې علمي کنفرانس د کوربه توب ویاړ لري.

اجازه راکړئ د سیمینار پر موضوع خپل اندونه په لنډ ډول له تاسو سره شریک کړم:

پر ته له کوم شکه چي افغانستان په تېرو څلورو لسېزو کي د ټولنیز، سیاسي او اقتصادي ژوند په ټولو برخو کي ډېر زیات زیان لیدلی دئ؛ ۴۰ کاله ترمخه موږ (لږ تر لږه د اوس په پرتله) په اقتصادي، سیاسي، ټولنیز او فرهنګي ژوند کي باثباته، د سیمي په کچه پرمختللی او په نړیواله کچه یو منل شوی هېواد وو. اقتصادي زېربناوې او تأسیسات لکه:

- د برق د تولید ۱۱ بندونه.
- ٦ د نساجي فابریکې.
- ۳ د سیمنټو د تولید فابریکې.
- سیلوګاني او د لومړني اړتیاوو د موادو کوپینونه.

- ساختماني او توليدي (د غوړي د توليد، بايسکل جوړولو، بوټ جوړولو، د بورې د توليد، صابون جوړولو، کيمياوي سرې د توليد او جوړولو) فابريکې.
- بانکونه.
- هوايي ميدانونه او د استوګنې آسانتياوې.
- د کرهنې او مالدارۍ پرمختللې فارمونه، پروژې او مجهز بنيادي جوړښتونه.
- او لسګونه نورې خدماتي، توليدي او سوداګريز شرکتونه او فابريکې.

په اساسي ډول شتون درلود او د دولت د قوي نظارت له امله تر ډېره حده په خپلو دندو او موخو کې بريالي ول. افغانستان تر ډېره حده خودکفا او په ځانګړې توګه د کرهنې او مالدارۍ په برخو کې د سيمې په کچه ستر صادراتي هېواد بلل کېده.

په سياسي لحاظ مونږ په داخل کې باثباته سياسي نظام درلود او په باندني سياست کې مو له ګاونډيو هېوادونو او نړۍ سره په تفاهم، سوله او پراخو دوه اړخيزو اړيکو کې ژوند کاوه. پياوړې اردو، پوليس او کشفي ارګانونه مو لرل او اداره مو له فساده تشه او د مسلکي اشخاصو په لاس کې وه.

په ټولنيز لحاظ مونږ يو واحد ملت وو او د يوه واحد ملت په تمثيل کې ډېر پياوړي او د سيمې په کچه بې ساري وو. خلکو، دولت او چارواکو د هېواد پر وړاندې د مسئوليت احساس کاوه او قوي ملي يووالي شتون درلود.

افغانستان په فرهنګي لحاظ بډايه او د باندنيو فرهنګونو د تيري پر وړاندې د پوهانو، ليکوالانو او پرافغانستان مينو فرهنګ پالو په واسطه کلک ديوال شتون درلود چې د هر ډول منفي فرهنګ پر وړاندې ئې ټينګه مبارزه کوله. افغانانو د نړۍ په هر ګوټ کې په سرلوړۍ او وياړ ژوند کاوه او ټولنيز عزت نفس مو پر ځای وو.

معارف او لوړې زده کړې معياري او د ټاکل سوي پروګرام سره سم پر مخ وړل کېدل، کابل پوهنتون د سيمې او نړۍ په کچه د ځانګړي اکاډيميک اعتبار درلودونکی وو. چې په دغه پوهنتون کې د ګاونډيو هېوادونو او د نړۍ له نورو هېوادونو څخه د محصلينو شتون د دې خبرې ښکاره ثبوت دئ.

خو له بده مرغه په دغو تېرو (۴۰) کلونو کې مو نه يوازې پرمختګ ونه کړ، چې آن شته زېربناوې او تأسيسات مو هم له لاسه ورکړل او د بيارغونې لپاره مو آن په تېرو ۱۱ کلونو کې هم ډېر څه و نه کړه. تېر ۱۱ کلونه د هېواد په تاريخ کې د مالي امکاناتو او وسايلو د زياتوالي له اړخه بې ساري او د نړېوالو د ملاتړ له اړخه د اړيکو د پراختيا يوه ښه نړېواله بېلګه بلل کېږي. خو متاسفانه د دغې ۱۱ کلنې دورې له امکاناتو څخه هغسې چې ښايي ګټه پورته نه سوه. د هېواد د منتخب ولسمشر د هيلو او آرزوګانو خلاف دا چې د ملي مشارکت په نوم او د هغه تر سيورې لاندې بيا هم په نظام کې سياسي بې ثباتي، په مديريت کې کمزورتيا او په چارو کې د عدم شفافيت د شتون له امله ډېر کار و نه سو.

خو په دې باور يو چې تاسې غونډې پوهان، روشنفکران او تحليلګران به د دغسې غونډو، سيمينارونو او کنفرانسونو له لارې د دې کړېدلي ولس د پرمختګ او پراختيا لارې چارې پيدا او د يوه پرمختللي، خودکفا، باثباته او يو موټي افغانستان لپاره لاره پرانيزي.

په همدې ځای خپلې وينا ته د پای ټکی ږدم او په دې باور يم چې په دې سيمينار کې د نظر خاوندانو د افغانستان په تېر ۴۰ کلن تاريخ په بشپړې بېطرفۍ او د حالاتو غوښتنو ته په کتلو سره ډېر څه چمتو کړي دي چې له اجنډا سره سم به ستاسو درانه حضور ته وړاندې کېږي.

ځای لري چې د پاچا خان د علمي څېړنيز مرکز د مشرتابه او ټولو هغو منسوبينو څخه چې د دې سيمينار په دايرولو کې ئې ونډه اخيستې او زيارئې ګاللی دئ، د زړه له کومې منننه وکړم. او هم د کندهار ولايت د محترم مقام، نورو دولتي ارګانونو (د کندهار ښاروالۍ، د قومونو او قبايلو، د ګمرک، اطلاعاتو او فرهنګ او د ترانسپورت محترم رياستونه)، امنيتي ارګانونه او د شاداب ظفر د ساختماني شرکت مشرتابه، د افکو کمپنۍ له مسئولينو او دسوداګريزو خونو له مشرتابه او نورو برخوالو څخه چې د دې سيمينار په مالي برخو کې يې خپلې مرستې نه دي سپمولي، مننه کوو.

اجازه راکړئ چې يو ځل بيا د کندهار پوهنتون د مشرتابه هيئت، د علمي کادر د غړو، د اداري او خدماتي کارکوونکو او محصلينو له اړخه تاسي ټولو درنو مېلمنو ته تود هرکلی ووايم او د دې علمي – تحليلي کنفرانس په چارو کې درته د زياتو برياوو هيله کوو.

په ډېر درنښت او ادب

دوکتور حضرت مير توتاخېل

د کندهار پوهنتون رئيس